قاصد
QASED
Strategic Research Center

# راصد

## ۳۳مه ګڼه

(۲۰-۲۶ ډسمبر ۲۰۱۹م)

(۲۹قوس-۵ جدي ۱۳۹۸هـ ش)

## د افغان جګړې د مرګ‌ژوبلې اوونیز راپور



راصد اوونیز راپور په افغانستان کې د جګړو او امنیتي پېښو له کبله ښکېلو لورو او ملکي خلکو ته اوښتې مرګ‌ژوبله په دقیق ډول څاري. په دغو راپورونو کې د جګړې له کبله د اوښتې مرګ‌ژوبلې شمېرې د افغان حکومت د سرچینو، د طالبانو د سرچینو، په سیمه کې عیني شاهدانو او نورو بېلابېلو ادارو او باوري سرچینو د معلوماتو له مخې راټولېږي. د دغو راپورونو اساسي موخه د روانې جګړې درنو زیانونو ته د ټولنې د نخبه پاړکي، واکمنو چاروا‌کو او مسؤولو لورو او همدا راز نړیوالو جهتونو پام راړول دي.


www.qased.org

info@qased.org

077 281 58 58

## سریزه

دغه راپور د ۲۰۱۹م کال ډسمبر له ۲۰مې تر ۲۶مې (د ۱۳۹۸ لمریز کال د قوس له ۲۹مې د جدي تر ۵مې) نېټې پورې د هېواد په بېلابېلو سيمو کې د جګړې له کبله د اوښتې مرګژوبلې شمېرې رانغاړي. په دې اوونۍ کې د ټول هېواد په کچه ۲۲۹ تنه وژل شوي او ۱۰۱ نور هم ټپيان شوي دي.

د راپور د شمېرو له مخې، دا اوونۍ په هېواد کې د جګړې له کبله د اوښتې مرګژوبلې مجموعي کچه د تېرې اوونۍ په پرتله لوړه شوې ده. تېره اوونۍ په ټول هېواد کې ۳۲۲ تنه وژل شوي او ټپيان شوي وو؛ خو دا اوونۍ ټول ۳۳۰ تنه وژل شوي او ټپيان شوي دي.

د افغان ځواکونو د مرګژوبلې کچه د تېرې اوونۍ په پرتله د ټيټوالي ښودنه کوي؛ خو په دې اوونۍ کې تر ټولو خونړۍ پېښې په بلخ ولايت کې وشوې. په دغه ولايت کې يوازې په دوو پېښو کې لږ تر لږه ۲۵ افغان سرتېري وژل شوي او ۱٦ نور ټپيان شوي دي.

د ملکي وګړو د مرګژوبلې کچه هم د تېرې اوونۍ په پرتله لوړه شوې؛ خو ملکيانو ته بيا هم د دولت د وسلهوالو مخالفينو له لوري په ځای پر ځای شوو ماينونو، هوايي بريدونو او شپنيو عملياتو کې ډېره مرګژوبله واوښته. د شپنيو عملياتو او چاودنو تر ټولو خونړۍ پېښې په ننګرهار، لغمان او کاپيسا ولايتونو کې وشوې او يوازې په دغو درېيو ولايتونو کې ۱۷ تنه ملکي وګړي وژل شوي او ۷ نور ټپيان شوي دي.

همدا راز د دولت د وسلهوالو مخالفينو د مرګژوبلې کچه هم په مجموعي ډول د تېرې اوونۍ په پرتله لوړه شوې او ډېره مرګژوبله په هوايي بريدونو کې وراوښتې ده.

په دې اوونۍ کې يو امريکايي سرتېرى هم د کندز ولايت په چهاردره ولسوالۍ کې د طالبانو په يوه بريد کې وژل شوی دی.

په دغه راپور کې د افغان ځواکونو، د دولت د وسلهوالو مخالفينو، ملکي خلکو او بهرنيو ځواکونو د مرګژوبلې شمېرې او جزئيات لولئ. همدا راز د راپور په وروستۍ برخه کې د هېواد د ټوليز امنيتي وضعيت او مهمو امنيتي پېښو په اړه تحليل لولئ.

## افغان ځواکونو ته اوښتې مرګژوبله

**د ډسمبر ۲۰مه:**

د پروان ولايت د بګرام ولسوالۍ په قلعه نصرو سيمه کې ناپېژاندو وسلهوالو د افغان ځواکونو د ګزمې پر کاروان بريد وکړ، چې له کبله يې يو د ملي امنيت سرتېرى وژل شوی دی.

د غزني ولایت د ده‌یک ولسوالۍ په رامک سیمه کې د نومورې ولسوالۍ ولسوال د وسله‌والو طالبانو په برید کې ټپي شوی دی.

**د ډسمبر ۲۱مه:**

په فراه ولایت کې د وسله‌والو طالبانو په کمین کې د سیمه‌ییزو پولیسو یو قوماندان وژل شوی او دوه ساتونکي یې ټپیان شوي دي.

په فارياب ولایت کې د دوو بېلابېلو امنيتي پېښنو په پایله کې ۳ پولیس وژل شوي او ۲ نور ټپیان شوي دي.

**د ډسمبر ۲۲مه:**

وسله‌والو طالبانو د بادغېس ولایت په قادس ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو پر پوستو بریدونه کړي، چې له کبله یې یو سیمه‌ییز پولیس وژل شوی او یو بل ټپي شوی دی.

**د ډسمبر ۲۳مه:**

د کاپیسا ولایت په آله‌سای ولسوالۍ کې د سیمه‌ییزو پولیسو یو قوماندان او یو ساتونکی یې د وسله‌والو طالبانو په کمین کې وژل شوي دي.

په بغلان ولایت د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو ترمنځ په وسله‌واله نښته کې یو د ملي اردو سرتېري ټپي شوی دی.

**د ډسمبر ۲۴مه:**

د جوزجان ولایت د فیض‌آباد ولسوالۍ کې په کوکلداش سیمه کې وسله‌والو طالبانو د سیمه‌ییزو پولیسو پر یوه پوسته برید وکړ، چې په پایله کې یې دوه سیمه‌ییز پولیس وژل شوي او دوه نور ټپیان شوي دي.

د بلخ ولایت په دولت‌آباد ولسوالۍ کې وسله‌والو طالبانو د افغان ځواکونو پر پوسته برید وکړ، چې له کبله یې ۱۵ امنيتي سرتېري وژل شوي او ۷ نور ټپیان شوي دي.

د پکتیا ولایت د ځمکنیو ولسوالۍ په نوزې خولې سیمه کې د افغان ځواکونو پر ګزمې چاودنه وشوه، چې له کبله یې یو د ملي اردو سرتېری وژل شوی او یو سرحدي پولیس ټپي شوی.

د پکتیا ولایت په آریوب ځاځي ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو د ګزمې پر موټر چاودنه وشوه، چې له کبله یې یو پولیس ټپي شوی دی.

**د ډسمبر ۲۵مه:**

په کندز ښار کې امنیه قوماندانۍ او ولایت مقام ته څېرمه یو پولیس د وسله‌والو طالبانو په برید کې وژل شوی او دوه نور ټپیان شوي دي.

**د ډسمبر ۲٦مه:**

د بلخ ولایت په خاص بلخ ولسوالۍ کې د ملي اردو پر یوه پوځي مرکز د وسله‌والو طالبانو د موټربم برید او وسله‌والې نښتې په پایله کې ۱۰ د ملي اردو سرتېري وژل شوي او ۹ نور ټپیان شوي دي.

یوه ښځینه پولیسه په سرپل ولایت د خپل خاوند له‌خوا ووژل شوه.

د غزني ولایت د قره‌باغ ولسوالۍ په لیونۍ بازار سیمه کې د وسله‌والو طالبانو په برید کې ۵ د ملي اردو سرتېري وژل شوي دي.

**جدول-۱: افغان ځواکونو ته اوښتي مرګ‌ژوبله:**

| نوم | وژل شوي | ټپیان | ټول وژل شوي او ټپیان |
|---|---|---|---|
| ملي اردو | ۲۳ | ۱۳ | ۳٦ |
| پولیس | ۲۰ | ۱٦ | ۳٦ |
| مجموعه | **۴۳** | **۲۹** | **۷۲** |

## د دولت د وسله‌والو مخالفینو مرګ‌ژوبله

**د ډسمبر ۲۰مه:**

د پروان ولایت د بګرام ولسوالۍ په قلعه نصرو سیمه کې د ناپېژاندو وسله‌والو او افغان ځواکونو په وسله‌واله نښته کې یو وسله‌وال ووژل شو.

د غزني ولایت د ده‌یک ولسوالۍ په رامک سیمه کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو ترمنځ په وسله‌واله نښته کې ۳ وسله‌وال طالبان وژل شوي دي.

د جوزجان ولایت په خانقا ولسوالۍ کې په یوه هوایي برید کې ۵ وسله‌وال طالبان وژل شوي او ٦ نور ټپیان شوي دي.

د بغلان ولایت د ډنډ غوري ولسوالۍ په قاضي خېل سیمه کې ٦ وسله‌وال طالبان د خپل ماین په چاودنه کې وژل شوي او دوه نور ټپیان شوي دي.

**د ډسمبر ۲۱مه:**

د لغمان ولایت په علیشنګ ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو په بریدونو کې ۷ وسله‌وال طالبان وژل شوي دي.

د هرات ولایت د شینډنډ ولسوالۍ په کاروانګاه سیمه کې د پشت‌کوه ولسوالۍ لپاره د وسله‌والو طالبانو د ولسوال په ګډون ۲ تنه وژل شوي او ۲ نور ټپیان شوي دي.

د بغلان ولایت په ډنډ غوري سیمه کې په موټرسایکل کې د یوه ځای پرځای شوي ماین په چاودنه کې ۴ وسله‌وال طالبان وژل شوي دي.

د پکتیکا ولایت په برمل ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو په برید کې یو طالب وسله‌وال وژل شوی او یو بل ټپي شوی دی.

د هرات ولایت په ادرسکن ولسوالۍ کې د وسله‌والو طالبانو د یوه مهم غړي په ګډون دوه وسله‌وال له افغان ځواکونو سره په نښته کې ووژل شول.

**د ډسمبر ۲۲مه:**

د پکتیکا ولایت په برمل ولسوالۍ د افغان کوماندو ځواکونو په برید کې ۳۰ وسله‌وال وژل شوي دي.

د پکتیا ولایت په زرمت ولسوالۍ کې په یوه هوایي برید کې ۴ وسله‌وال طالبان وژل شوي دي.

**د ډسمبر ۲۳مه:**

د ننګرهار ولایت د خوګیانیو ولسوالۍ په احمد خېلو سیمه کې د افغان ځواکونو په برید کې یو وسله‌وال طالب وژل شوی دی.

د لغمان ولایت په علیشنګ ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو په هوایي برید کې ۳ وسله‌وال طالبان وژل شوي او دوه نور ټپیان شوي دي.

د بغلان ولایت په دهنه غوري ولسوالۍ کې په یوه بل هوایي برید کې ۵ وسله‌وال طالبان وژل شوي او ۷ نور ټپیان شوي دي.

د هلمند ولایت په گرمسېر ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو په برید کې ۸ وسله‌وال طالبان وژل شوي دي.

د فاریاب ولایت په شیرین تگاب او دولت آباد ولسوالیو کې د هوایي بریدونو په پایله کې ۴ وسله‌وال طالبان وژل شوي او ٦ نور ټپیان شوي دي.

**د ډسمبر ۲۴مه:**

د جوزجان ولایت د فیض‌آباد ولسوالۍ په کوکلداش سیمه کې د وسله‌والو طالبانو او سیمه‌ییزو پولیسو په نښته کې ۳ وسله‌وال طالبان وژل شوي او ۴ نور ټپیان شوي دي.

د هلمند ولایت د نادعلي ولسوالۍ په سیدآباد سیمه کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو ترمنځ په وسله‌واله نښته کې ۱۷ وسله‌وال طالبان وژل شوي دي.

د هرات ولایت په گلران ولسوالۍ کې د شینډند ولسوالۍ لپاره د وسله‌والو طالبانو ولسوال او دوه نور وسله‌وال وژل شوي دي.

د کاپیسا ولایت د نجراب ولسوالۍ په بچه‌غان دره کې د افغان ځواکونو په هوایي برید کې ۴ وسله‌وال طالبان وژل شوي او یو بل ټپي شوی دی.

د فاریاب ولایت په گرزیوان ولسوالۍ یو وسله‌وال طالب د خپل ماین په چاودنه کې ووژل شو.

د اروزگان ولایت په مرکز ترینکوټ کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو ترمنځ په وسله‌واله نښته کې ٦ وسله‌وال طالبان وژل شوي او دوه نور ټبیان شوي دي.

د اروزگان ولایت په دهراوود او خاص اروزگان ولسوالیو کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو ترمنځ په وسله‌واله نښته کې ٦ د دولت وسله‌وال مخالفین وژل شوي او ۴ نور ټپیان شوي دي.

**د ډسمبر ۲۵مه:**

د کندز ولایت اړوند د کندز ـ خان آباد پر لویه لاره د افغان ځواکونو په بریدونو کې ۱۳ وسله‌والو طالبان وژل شوي  او ۵ نور ټپیان شوي دي.

**د ډسمبر ٢٦مه:**

د بلخ ولایت په کشنده ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو په هوایي برید کې د وسله‌والو طالبانو د دوو مهمو غړو په گډون ١٦ وسله‌وال طالبان وژل شوي دي.

جدول-۲: د دولت وسله‌والو مخالفینو ته اوښتې مرګ‌ژوبله:

| نوم | وژل شوي | ټپیان | ټول وژل شوي او ټپیان |
|---|---|---|---|
| طالبان | ۱۵۳ | ۴۲ | ۱۹۵ |
| مجموعه | **۱۵۳** | **۴۲** | **۱۹۵** |

## ملکي وګړو ته اوښتې مرګ‌ژوبله

**د ډسمبر ۲۰مه:**

د ننګرهار ولایت د خوګیانیو ولسوالۍ د تور غر سیمې په بېټنیو کلي کې د افغان ځواکونو په شپنیو عملیاتو کې ۷ تنه ملکي وګړي وژل شوي دي.

**د ډسمبر ۲۱مه:**

د فاریاب ولایت په شیرین‌تګاب ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو ترمنځ په وسله‌واله نښته کې یو ملکي وګړی ټپي شوی دی.

په فاریاب ولایت کې په دوو بېلابېلو امنیتي پېښو کې ۲ تنه ملکي وګړي وژل شوي او ۴ نور ټپیان شوي دي.

**د ډسمبر ۲۳مه:**

د لغمان ولایت په دولت‌شاه ولسوالۍ کې د جنازې پر مراسمو د چاودنې له کبله ۳ تنه ملکي وګړي وژل شوي او ۷ نور ټپیان شوي دي.

د کاپیسا ولایت د نجراب ولسوالۍ په افغاني دره سیمه کې د بهرنیو ځواکونو په یوه هوایي برید کې د یوه ماشوم او دوو ښځو په ګډون ٦ ملکي وګړي وژل شوي دي.

د ننګرهار ولایت د خوګیانیو ولسوالۍ په احمد خېلو سیمه کې د ګډو ځواکونو په شپنیو عملیاتو کې یو ملکي وګړی وژل شوی دی.

**د ډسمبر ۲۴مه:**

د غزني ولایت د خواجه عمري ولسوالۍ په اقاسي سیمه کې پر یوه کور د هاوان مرمۍ د لګېدو له کبله دوې ښځې وژل شوي دي.

د هرات ولایت د کهسان ولسوالۍ په قدوس سیمه ۳ ملکي وګړي د وسله‌والو طالبانو په ډزو کې وژل شوي دي.

د کندهار ولایت د عینو مېنې په ۲۲مه جاده کې چاودنه وشوه، چې له کبله یې ۵ ملکي وګړي ټپیان شوي دي.

**د ډسمبر ۲۵مه:**

د اروزګان ولایت په ترینکوټ ښار کې د یوې چاودنې له کبله ۳ ملکي وګړي وژل شوي او د دغه ولایت د عامې روغتیا د رئیس په ګډون درې تنه ټپیان شوي دي.

د جوزجان ولایت د درقد ولسوالۍ په طاهریانو سیمه کې د تاجکستان سرحدي ځواکونو په ډزو کې ۳ ملکي وګړي وژل شوي او ۲ نور ټپیان شوي دي.

په کندز ښار کې امنیه قوماندانۍ او ولایت مقام ته څېرمه د یوه پولیس ترڅنګ دوه ملکي وګړي د وسله‌والو طالبانو په برید کې ټپیان دي.

**د ډسمبر ۲۶مه:**

په خوست ښار کې د یوې چاودنې له کبله ۵ تنه ملکي وګړي ټپیان شوي دي.

د پکتیکا ولایت د برمل ولسوالۍ په لمن سیمه کې د بې‌پیلوټه الوتکې په برید کې د یوه ۱۲ کلن ماشوم په ګډون دوه ملکیان وژل شوي دي.

**جدول ۳: ملکي وګړو ته اوښتي مرګ‌ژوبله:**

| نوم | وژل شوي | ټپیان | ټول وژل شوي او ټپیان |
|---|---|---|---|
| ملکي وګړي | ۳۲ | ۲۹ | ٦١ |
| مجموعه | **۳۲** | **۲۹** | **٦١** |

## بهرنیو ځواکونو ته اوښتي مرګ‌ژوبله

**د ډسمبر ۲۳مه:**

د کندز ولایت په چهار دره ولسوالۍ کې د ځانګړو امریکایي ځواکونو یو سرتېری د وسله‌والو طالبانو له لوري د ماین په چاودنه کې وژل شوی او یو بل سرتېری ټپي شوی دی.

## پایله او د اوونۍ تحلیل

د راپور د شمېرو له مخې، د روان لمریز ۱۳۹۸ کال د قوس له ۲۹مې د مرغومي تر ۵مې (د ۲۰۱۹م د ډسمبر له ۲۰مې تر ۲۶مې) نېټې پورې د ټول هېواد په کچه ۳۳۰ تنو ته مرگ‌ژوبله اوښتې ده، چې ۲۲۹ یکې وژل شوي او ۱۰۱ نور هم ټپیان شوي دي.

په دې اوونۍ کې د جگړې د مرگ‌ژوبلې مجموعي کچه د تېرې اوونۍ په پرتله لوړه شوې ده. د افغان حکومت په اړخ کې، تېره اوونۍ ۵۸ تنه افغان امنیتي سرتېري وژل شوي وو؛ خو په دې اوونۍ کې دا کچه راټیټه شوې او ټول ۴۳ تنه افغان امنیتي سرتېري وژل شوي دي. د دولت د وسله‌والو مخالفینو د مرگ‌ژوبلې کچه بیا په دې اوونۍ کې لوړه شوې ده. تېره اوونۍ ۱۲۲ تنه د دولت وسله‌وال مخالفین وژل شوي وو؛ خو په دې اوونۍ کې د هېواد په بېلابېلو سیمو کې ټول ۱۵۳ تنه طالب وسله‌وال وژل شوي دي. همدا راز د ملکي وگړو د مرگ‌ژوبلې کچه هم د تېرې اوونۍ په پرتله د لوړوالي ښودنه کوي. تېره اوونۍ د ملکي وگړو د وژل شوو شمېر ۲۷ تنه و، خو په دې اوونۍ کې بیا دا شمېره ۳۲ تنو ته لوړه شوې ده.

په دې اوونۍ کې یو ځل بیا ملکي وگړو ته د جگړې د دواړو لورو په بریدونو کې مرگ‌ژوبله واوښته او په ځانگړې توگه د افغان او بهرنیو ځواکونو په شپنیو عملیاتو کې گڼ شمېر ملکي وگړي ووژل شول. په روانه جگړه کې د ملکي وگړو مرگ‌ژوبله خورا لوړه ده او دواړه لوري د ملکیانو ژوند ته لازمه پاملرنه نه کوي. په افغانستان کې د ملگرو ملتونو سیاسي استازولۍ (یوناما) په خپل تازه راپور کې ویلي، چې په تېره لسیزه کې تر ۱۰۰ زره زیات ملکي وگړي په جگړه کې وژل شوي او ټپیان شوي دي. د یوناما مشر تادامیچي یامامتو په یوه خپره کړې خبرپاڼه کې ویلي، چې د افغانستان د جگړې لپاره هېڅ ډول نظامي حل نشته او افغانان باید د سولې لپاره جدي غږ پورته کړي.

په دې اوونۍ کې همدا راز یو ځل بیا امریکایي ځواکونو ته د وسله‌والو طالبانو  په یوه برید کې مرگ‌ژوبله واوښته. په دغه پېښه کې چې د افغانستان په شمال کې د کندز ولایت په چهاردره ولسوالۍ کې وشوه، د ماین په چاودنه کې یو امریکایي سرتېری ووژل شو او یو بل امریکایي سرتېری ټپي شو، چې د امریکا د دفاع وزارت د یوه سرتېري وژل کېدل منلي دي.

دغه امریکایي داسې مهال وژل کېږي، چې امریکایي پلاوی او طالب استازي په قطر کې د سولې یوې هوکړې ته د رسېدو په هڅه کې دي او ویل کېږي، چې دواړه لوري د اوربند پر مسئله ځینې اختلافات لري او دغې مسئلې د سولې هوکړه ځنډولې ده. د ځینو سرچینو د معلوماتو له مخې، طالبان ښایي د دغه توافق له مخې یوازې له امریکایانو سره اوربند ومني او امریکایي لوری هم غواړي له طالبانو سره پر همدغه ډول اوربند هوکړه وکړي او ټول-شموله اوربند بین

الافغاني خبرو اترو ته پرېږدي؛ څکه د امریکا حکومت له طالبانو سره د سولې هوکړې او د خپلو ځو زره سرتېرو ایستلو ته بیړه لري.

قاصد د ستراتېژیکو څېړنو مرکز په هېواد کې د جګړې د مرګ‌ژوبلې د څارونکي ارګان په توګه ټینګار کوي، چې په هېواد کې د رواني وینې تویېدنې او خونړي وضعیت پای یوازې او یوازې د بهرنیو ځواکونو د بشپړ وتلو او سولې له لارې شونی دی. له همدې کبله پر نړیوالو او کورنیو ښکېلو لورو غږ کوو، چې د جګړې پر ډګر د تمرکز پر ځای د سولې هڅو ته پام واړوي.

**جدول ۴: د جګړې د ښکېلو لورو او ملکي خلکو مجموعي مرګ‌ژوبله:**

| نوم | وژل شـــوي | نوم | ټپيـــــان |
|---|---|---|---|
| افغان ځواکونه | ۴۳ | افغان ځواکونه | ۲۹ |
| د دولت وسله‌وال مخالفین | ۱۵۳ | د دولت وسله‌وال مخالفین | ۴۲ |
| ملکي وګړي | ۳۲ | ملکي وګړي | ۲۹ |
| بهرني ځواکونه | ۱ | بهرني ځواکونه | ۱ |
| **مجموعه** | **۲۲۹** | **مجموعه** | **۱۰۱** |
| **ټول وژل شوي او ټپیان** | **۳۳۰** | | |

پای